# د مریض
# تپوس اوکړئ...!!

23-NOVEMBER-2023



هفته وار د سنتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سنتو ډک بیان

(for Islamic Brothers)

په23 نومبر کال 2023ء د پاکستان په هفته وار اجتماع کښې کیدونکے بیان

# د مریض تپوس اوکړئ...!!

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... د مسلمان په مسلمان باندې حقونه
- ...د مریض د تپوس کولو فضیلتونه
- ... د تپوس په فضائلو باندې احادیث
- ... د اللّٰه پاك سره د خبرو کولو شرف
- ... د د تپوس کولو آداب

پیشکش:

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللہ     وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللہ     وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (**ترجمه:** ما د سُنَّتِ اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

حضرت ابو طلحه انصاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: يو ځل د سحر په وخت د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په نُوراني مخ باندې د خوشحالئ آثار وو، صحابهٔ کرامو عَلیھِمُ الرِّضوَان چې د دې وجه اوپوښتله نو اوئې فرمائيل: الله پاک پيغام راليږلے دے: اے محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ستا چې کوم اُمَّتي په تاسو باندې يو ځل درود اولولي، **زه به د هغه د پاره 10 نيکئ ليکم، د هغه 10 ګناهونه به ورانووم، 10 درجے به ورله اوچتووم او هم دومره رحمت به پرې ليږم.**[1]

اُن پر دُرود جن کو کَسِ بے کَساں کہیں اُن پر سَلام جن کو خَبَر بے خَبَر کی ہے[2]

---

[1]... مُسْنَدِ اَحمد، جلد:5، صفحه:509، حديث:16352۔

[2]... حدائقِ بخشش، صفحه:209۔



www.dawateislami.net

**وضاحت:** هغه خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چا ته چې د بے وسو مددګار وئیلے شي، کوم چې د هر بے خبره خبر لرونکے دے، په هغوئي دې درود و سلام وي.

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

په حدیثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الۡاَعۡمَالُ بِالنِّیّات د اعمالو دار و مدار په نیتونو باندې دے.[1]

اے عاشقانِ رَسُول! ښه نیت بنده جنّت ته داخلوي، د بیان اوریدلو نه مخکښې څه ښه ښه نِیَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِیَّت اوکړئ چې ❀ د الله پاک د رضا د پاره به بیان اورم ❀ عِلمِ دِین به زده کووم ❀ ټول بیان به اورم ❀ د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت به باادبه کښینم ❀ نصیحت به حاصلووم ❀ د اَحمَدِ مجتبیٰ، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پاک نوم چې واورم نو درودِ پاک به لولم.

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! مونږه مسلمانان یو، د یوے مسلمان معاشرے حِصَّه یو، د خپلې دې مُعاشرے حُسن، ښکلا او وقار،

[1]... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔



www.dawateislami.net

سکون، اطمينان او امن و امان برقرار ساتل ټخپله زمونږه ذِمَّه واري ده، دا هم د اسلام حُسن دے چې اسلام د هر يو جدا جدا حقونه مقرر کړي دي، که مونږه دا حقونه په پورا طريقے سره ادا کړو نو زمونږه مُعاشره به هيڅ کله د بدامنئ ښکار نه شي. خو په ډير افسوس سره وينا کيږي چې مونږه مسلمانان يو خو زمونږه په مسلمانانو ورونړو څه څه حقونه دي؟ په مونږ کښې ډير کم خلقو ته د دې معلومات دي. الله پاك دې مونږ ته د علمِ دين نعمت را نصيب کړې. نن به مونږه د خپل مسلمان ورونړو حقونو نه يو اهم حق په باره کښې اسلامي تعليمات زده کولو کوشش کوو، الله پاك دې مونږ ته د صحيح تعليماتو زده کولو، هغه ياد ساتلو، نورو ته د رسولو او ټخپله پرې د عمل کولو توفيق را عطا کړې.

## ژاړئ مه!

**اُمُّ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا فرمائي: حُضُورِ اکرَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو صحابـي اونه ليدلو نو د صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان نه ئې د هغه په باره کښې پوښتنه اوکړه: عرض اوکړے شو: د هغه سخته تبه ده. د اُمَّت غمخوار آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان ته ارشاد اوفرمائيلو: راځئ! مونږه د هغه تپوس د پاره ځو، کله چې غمونه لرې کوونکے آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه [مريض] خواته تشريف



www.dawateislami.net

یوړلو نو هغه ژړل. خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه ته ارشاد اوفرمائيلو: ژاړه مه! ځکه چې جبریل عَلَیۡہِ السَّلَام خبر کړے دے چې تبه زما د اُمَّت د پاره د دوزخ نه حِصَّه ده.[1]

سُبۡحٰنَ اللّٰه! هغه بدني بیمار خو خوش قسمته صحابۍ رسول په مبارکو قدمونو باندې دې د ټولې دُنیا صحتونه قربان شي، د چا د تپوس د پاره چې د طبیبانو طبیب، د الله پاك خوږ حبیب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشریف راوړے دے. یو شاعر څه ښه وینا کړې ده:

سرِ بالیں انہیں رحمت کی ادا لائی ہے | حال بگڑا ہے تو بیمار کی بن آئی ہے[2]

**وضاحت:** رحم کوونکے آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رحمت کولو ادا خپل اُمَّتي باندې د رحمتونو باران کولو له زما سر ته تشریف راوړو نو دا څنګه د الله پاك فضل دے چې په ظاهره بیماري ده حالت خراب دے خو خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د تشریف راوړلو سره د مریض قسمت بیدار شو.

**اے عاشِقانِ رسول!** د خپل اُمَّت سره مینه کوونکي خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بیان شوي واقعه کښې د خپل صحابي نه موجود کیدلو باندې د هغه خیریت او تپوس کولو انداز مبارك نه قربان شم! کاش! مونږه هم

---

[1]...معجمِ صغیر للطبرانی، صفحه:249، حدیث:314 بتغیرِ قلیل۔

[2]...ذوقِ نعت، صفحه:250۔



www.dawateislami.net

د خپل مسلمانانو وروڼو خبر اخستلو عادت جوړ کړو، چرته چې د دې نه د الله پاك رِضا په خاطر د بیمار تپوس کولو عظیم ثواب زیرے میلاویږي هلته د یو مسلمان په زړه کښې د هغه محبت هم زیاتیږي.

## د مسلمان په مسلمان باندې حقونه

مشهور صحابیٔ رسول حضرت ابو هُریره رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روایت دے چې د الله پاك آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ خَمْسٌ د یو مسلمان په بل مسلمان باندې 5 حقونه دي.[1]

دا د **بُخاري** او **مسلم** حدیثِ پاك دے، په دې کښې د 5 حقونو ذِکر دے، په بعضو نورو روایتونو کښې 7 حقونه بیان شوي دي، بهرحال! دا 5 حقونه کوم کوم دي، ارشاد فرمائي:

## (1) وړومبے حق: د سلام جواب ورکول

رَدُّ السَّلَام د سلام جواب ورکول[2] (یعني کله چې یو مسلمان مونږ ته سلام اوکړي نو د مسلمان حق دے چې هغه ته د سلام جواب ورکړي).

---

[1]...بخاری، کتاب الجنائز، باب الامر باتباع الجنائز، صفحه: 355، حدیث: 1240۔

[2]...بخاری، کتاب الجنائز، باب الامر باتباع الجنائز، صفحه: 355، حدیث: 1240۔



www.dawateislami.net

دلته خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څه قيد ذِکر کړے نه دے ❁ څوئ سلام اوکړي نو د هغې هم جواب ورکول دي ❁ پلار سلام اوکړي نو د هغې هم جواب ورکول دي ❁ ورور سلام اوکړي ❁ ګاونډي سلام اوکړي ❁ خپلوان سلام اوکړي ❁ دوست يا دُښمن سلام اوکړي ❁ څوك چې مسلمان دے، کلمه لوستونکے دے، عاشقِ رسول دے، هغه چې کله هم مونږ ته سلام اوکړي خدائے دې نکړي که زمونږه د هغه سره ناراضګي هم وي، خدائے دې نکړي که مونږه هغه خپل دُښمن هم ګڼو، بيا هم د يو مسلمان په بل مسلمان باندې حق دے چې هغه د خپل مسلمان ورور د سلام جواب ورکړي. مخامخ کس چې کله سلام اوکړي او دا ئې جواب ورکړي نو که په خپل مينځ کښې ناراضګي هم وي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم! د دې سلام او د سلام جواب ورکولو په برکت به په دوستئ کښې بدله شي.

## د سلام جواب به څنګه ورکوو؟

بهرحال! د خپل مسلمان ورو د سلام جواب ورکول څه دي؟ اسلامي حق دے. او دا جواب ورکول څنګه دي؟ اللّٰه پاك په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

وَ اِذَا حُيِّيْتُمْ بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوْا بِاَحْسَنَ مِنْهَآ اَوْ رُدُّوْهَا ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ

[مفهوم]ترجمۀ کَنزُالعِرفان: او چې کله تا ته په يو لفظ سره سلام اوکړے شي نو ته د هغې نه په بهتر لفظ سره جواب ورکړه يا هم هغه الفاظ اووايه بيشکه

شَیۡءٍ حَسِیۡبًا۔ (پاره:5، النساء:86) الله په هر څيز باندې حساب اخستونكے دے.

دا هميشه ياد ساتئ! چې سلام كول سُنَّت دي او جواب وركول واجب دي. په اسلامي سلام كښې **3** الفاظ دي: **(1)** اَلسَّلَامُ عَلَیۡکُمۡ **(2)** وَرَحۡمَةُ اللهِ **(3)** وَبَرَکَاتُهٗ. كه څوك اووائي: اَلسَّلَامُ عَلَیۡکُمۡ نومونږ به اووايو: وَعَلَیۡکُمُ السَّلَامُ وَرَحۡمَةُ اللهِ كه څوك اووائي: وَعَلَیۡکُمُ السَّلَامُ وَرَحۡمَةُ اللهِ نو مونږ به په جواب كښې اووايو: وَعَلَیۡکُمُ السَّلَامُ وَرَحۡمَةُ اللهِ وَبَرَکَاتُهٗ او كه څوك ورسره وَبَرَکَاتُهٗ هم اووائي نو مونږ به په جواب كښې دغه درے الفاظ اووايو.[1] بهرحال! كله چې هم څوك مسلمان مونږ ته سلام اوكړي نو په مونږ باندې لازم دي چې د ده د سلام جواب په دومره آواز وركړو چې د هغه غوږونه ئې واوري.

## (2) دويم حق: د بيمار تپوس كول

د الله پاك آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مسلمان ورور دويم حق بيانولو سره اوفرمائيل: وَعِیَادَةُ الۡمَرِیۡض د مريض تپوس كول.[2] يعني زمونږه مسلمان ورور كه خپل ورور وي يا پرَدے، نزدې وي يا لرې، دوست وي يا دُښمن، خپل خپلوان وي يا د ښار په اړخ اوسيدونكے نااشنا

---

[1] ...ردالمحتار، كتاب الحظر و الاباحة، فصل في البيع، جلد:9، صفحه:683 ملتقطًا۔

[2] ...بخاری، كتاب الجنائز، باب الامر باتباع الجنائز، صفحه:355، حديث:1240۔



www.dawateislami.net

وي، څوك چې مسلمان دے، عاشقِ رسول دے، كه هغه بيمار شي نو د مسلمان حق دے چې د تپوس د پاره لاړ شي، د هغه تپوس اوكړي.

## (3) دريم حق: په جنازه كښې شركت كول

دريم حق ئې بيان اوفرمائيلو: وَاِتِّبَاعُ الْجَنَائِزِ د جنازے سره تلل.[1] يعني مسلمان ورور كه د دُنيا نه رُخصَت شي نو په نورو مسلمانانو باندې حق دے چې د هغه په جنازه كښې شريك شي، د هغه په غسل، كفن او دفن كښې چې څومره كيدے شي حِصَّه واخلي.

## (4) څلورم حق: دعوت قبلول

څلورم حق دے: وَ اِجَابَةُ الدَّعْوَةِ دعوت قبلول.[2] يعني زمونږه مسلمان ورور كه زمونږه دعوت اوكړي نو د هغه دعوت دې قبول كړے شي، دا دې نه ګوري چې مالداره دے يا غريب دے، مونږه ئې په دعوت رابللي يو زمونږ د حالت مطابق به زمونږه ميلمستيا هم اوكړي يا نه، بس څوك چې هم مونږ ته دعوت راكړي، مونږ به د امير او غريب د فرق نه بغير د هغه دعوت قبلوو، دا هم د مسلمان ورور بنيادي حق دے.

---

1...بخاری، کتاب الجنائز، باب الامر باتباع الجنائز، صفحه: 355، حديث: 1240۔

2...بخاری، کتاب الجنائز، باب الامر باتباع الجنائز، صفحه: 355، حديث: 1240۔

## (5) پينځم حق: د پرَنجي جواب ورکول

او پينځم حق دے: **وتَشْمِيْتُ العَاطِسِ** د پرَنجي جواب ورکول.[1] يعني کله چې زمونږه يو مسلمان ورور ته پرَنجے راشي او هغه **اَلْحَمْدُلِلّٰه**! اووائي نو په اوريدونکي باندې واجب دي چې د هغه د پرَنجي جواب ورکولو سره اووائي: **يَرْحَمُكَ الله** (يعني الله پاك دې په تاسو رحم اوکړي)[2]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د يو مسلمان په بل مسلمان باندې دا 5 حقونه دي:

**(1)** د سلام جواب ورکول **(2)** د مريض تپوس کول **(3)** په جنازه کښې شرکت کول **(4)** دعوت قبلول **(5)** د پرَنجي جواب ورکول.

مونږ له پکار دي چې مونږه د خپل مسلمان ورور دا پينځه حقونه پوره په ايمانداريئ سره په تَوَجُّه کښې اوساتو او پوره ئې کړو.

راځئ! په دې 5 کښې د يو حق وضاحت يعني د مريض تپوس په باره کښې اورو:

---

[1] ...بخاری، کتاب الجنائز، باب الامر باتباع الجنائز، صفحه:355، حديث:1240۔

[2] ...رد المحتار، کتاب الحظر و الاباحة، فصل فی البيع، جلد:9، صفحه:684683 ملتقطًا۔



www.dawateislami.net

# د مريض د تپوس كولو فضيلتونه

خوږ آقا، مكي مدني مصطفٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دويم حق بيانولو سره اوفرمائيل: وَعِيَادَةُ الْمَرِيض د مريض تپوس كول. دا هم ډير د فضيلت كار دے، زمونږه يو مسلمان ورور كه بيمار شي، چرته زخمي شي، څه حادثه ورته پيښه شي يا هسي څه طبيعت ئې خراب شي [او بيمار شي] نو مونږ له پكار دي چې مونږه د خپل مسلمان ورور تپوس اوكړو، د هغه خوا ته لاړ شو، ملاقات ورسره اوكړو، د هغه حال احوال پوښتنه اوكړو، هغه ته تسلي وركړو، كه هغه ته د څه څيز ضرورت وي او مونږه د مدد كولو طاقت لرو نو د هغه مدد هم اوكړو، بهرحال! هغه بےوسه د غم په كيفيت كښې دے نو نورو مسلمانانو له پكار دي چې د هغه غم تقسيم كړي، د دې په بركت به په خپل مينځ كښې مو محبت زيات شي، په خپل مينځ كښې به مو په اِتِّفاق او اِتِّحاد كښې زيات والے كيږي او نتيجةً زمونږه مُعاشره به د امن او سكون، مينې او محبت انګړ جوړ شي.

## تپوس كول سُنَّت دي

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د مريض عيادت [يعني تپوس] كول زمونږ د خوږ آقا، مكي مدني مصطفٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوږ خوږ سُنَّت دے.[1] زمونږ د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا ډير ښكلے عادت مبارك وو چې

---

[1]...بهارِ شريعت، جلد:3، صفحه:505، حصه:16۔

هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته به معلومه شوه چې فلانے بيمار دے نو كه هغه به د مدينه منوره په آخري اړخ كښې ولے نه اوسيدلو، خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغه د تپوس د پاره تشريف وړلو.

حضرت عَلَّامه قاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: كوم صحابۀ كرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوان به چې حاضر نه شو نو سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغوئي په باره كښې پوښتنه كوله، كه څوك به بيمار وو نو د هغه تپوس به ئې كولو يا به څوك مُسافِر وو نو د هغه د پاره به ئې دُعا كوله.[1]

ہر دَم ہے تمہیں اپنے غلاموں پہ عنایت دِن رات کا یہ کار ہے سرکار تمہارا[2]

## د مخلوق برابر نيكئ

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيمار تپوس كول چې څنګه د الله پاك آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوږ خوږ سُنَّت دے، داسې د وړومبنو انبيائے كرام عَلَيْهِمُ السَّلَام هم سُنَّت دے. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د الله پاك هر نبـي عَلَيْهِ السَّلَام همدرد او داد رسي كوونكے وو. په رواياتو كښې دي: يو ځل د الله پاك خپل نبـي حضرت موسىٰ كليمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام طرف ته وحي اوفرمائيله: اے موسىٰ! آيا ته غواړې چې د قيامت په ورځ ستا نيكئ د ټول مخلوق برابر وي؟

---

[1]...جمع الوسائل فی شرح الشمائل، باب ما جاء فی تواضع رسول الله، جلد:2، صفحه:142۔

[2]...قبالۀ بخشش، صفحه:47۔



www.dawateislami.net

حضرت موسٰی عَلَیْہِ السَّلَام عرض اوکړو: آؤ! اے الله پاکه...! بالکل زه دا غواړم.
الله پاك اوفرمائيل: اے موسٰی! که ته دا غواړې نو د مريضانو تپوس کوه! او د غريبانانو د پاره د جامو اهتمام کوه...! د روايت الفاظ دي چې د دې نه پس حضرت موسٰی عَلَیْہِ السَّلَام دا دواړه کارونه په خپل ځان باندې لازم کړل.[1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! لږه اندازه اولګوئ! دا ثومره عظيمُ الشان کار دے، زمونږه يو مسلمان ورور بيمار شي نو مونږه صرف د هغه خوا ته تلل دي او د هغه تپوس کول دي، د هغه د حال احوال پوښتنه کول دي، ثواب ثومره زيات دے. اَللّٰهُ اَکبَر

وہ تو نہایت سستا سودا بیچ رہے ہیں جنّت کا | ہم مفلس کیا مول چُکائیں،اپنا ہاتھ ہی خالی ہے[2]

**وضاحت:** خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خو جنت په ډير کم قيمت کښې خرڅوي، خو مونږه غريبانان د هغې سودا څنګه اوکړو؟ د خپل ځان سره راسره هيڅ هم نشته.

دا ثومره آسانه طريقه ده د نيکو ګټلو...!! خو افسوس! مونږه خلق سُستي کوو. الله پاك دې مونږ ته د خپلو مسلمانانو ورونو تکليف تقسيمولو توفيق را عطا کړي.

---

[1]...الروض الفائق فی المواعظ و الرقائق، صفحه:92۔
[2]...حدائقِ بخشش، صفحه:186۔



www.dawateislami.net

## يو مسلمان سپك مه ګڼئ ...!!

زمونږ د خلقو يو سوچ جوړ شوے دے، خلق د ثواب په مُعامَله كښې هم د خپل معيار لحاظ ساتي د مثال په طور تپوس واخلئ! يو مسلمان ورور بيمار شي نو دا ليدل كيږي چې هغه زمونږ د معيار دے يا نه دے،كه نوكر بيمار شي نو سيټهـ صاحِب د هغه په تپوس كولو كښې شرم محسوسوي، ملازم بيمار شي نو مالك د هغه تپوس له تلل خپله بےعزتي محسوسوي، دغه شان د مالدار او غريب هم فرق كيږي. دا ډيره غلطه خبره ده.

هر ایک چیز سے پیدا خُدا کی قدرت ہے | کوئی بڑا کوئی چھوٹا یہ اس کی حکمت ہے

مونږ ته دا معلوم نه دي چې د الله په نِزد څوك د عِزَّت خاوند دے، څوك د هغه په بارګاه كښې مقبول دے، كيدے شي چې د ذات نه غريب د ايمان په حوالے سره ډير مالداره وي، كيدے شي چې زمونږه نوكر د الله پاك په نِزد باندې د اوچت مقام مالِك وي، دغه شان څوك وړوكے دے يا لوئے، څوك مالداره دے يا غريب، څوك دوست دے يا نااشنا، كه هغه بيمار دے نو مونږ له د هغه تپوس كول دي او ثواب ګټل پكار دي. د **مسلم شريف** حديثِ پاك دے، د الله پاك آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: الله پاك به د قيامت په ورځ ارشاد اوفرمائي: **اے د آدم ځويه**! زه بيمار ووم، تا زما تپوس

ولے اونکړو؟ بنده به عرض اوکړي: اے زما کریمه ربه! ته خو رَبُّ الْعٰلَمِین ئې، (ته خو د هر عیب نه پاك ئې، بیمار کیدل ستا د شان لائق نه دي، اے ربه کریمه! کله چې ته د بیمار کیدو نه پاك ئې) ما به ستا تپوس څنګه کړے وے؟ الله پاك به اوفرمائي: آیا تا ته معلوم نه وو چې زما فلانے بنده بیمار شوے وو او تا د هغه تپوس نه وو کړے، که تا د هغه تپوس کړے وے نو خامخا به دې زما رضا موندلې وے.[1]

اَللّٰهُ اَكْبَرْ! اَللّٰهُ اَكْبَرْ! اندازه اولګوئ! د یو مسلمان څنګه اوچت شان دے ..!! بنده بیماریږي، الله پاك فرمائي: اے د آدم څویه! تا زما تپوس ولے اونکړو...!! سُبْحٰنَ اللّٰه! د دې نه معلومه شوه، که مالداره دے یا غریب، سیټهـ دے یا نوکر، کوم بنده چې مسلمان دے، د الله پاك په نِزد د هغه اوچت مقام دے، مونږ له پکار دي چې مونږه د هغه تپوس له لاړ شو او ثواب اوګټو.

## د تپوس په فضیلتونو باندې احادیث

خوږو اسلامي وروڼو! د شیخِ طریقَت،اَمِیرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الیاس عطّار قادِری دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ نیك جوړولو والا رساله نیك اعمال کښې یو نیك عمل دا هم دے. چې په هفته کښې کم نه کم یو

[1] ...مسلم، کتاب البر و الصلة و الآداب، باب فضل عیادة المریض، صفحه: 997، حدیث: 2569۔

ځل كور يا هسپتال ته په تللو د يو مريض تپوس مو كړے دے. د خپل مسلمان ورور تپوس كولو له تلل ډير د فضيلت كار دے، دا ډيره آسانه نيكي ده خو د دې ثواب ډير زيات دے.

## د جنَّتــي انسان 4 خصلتونه

د حضرت ابُو هُريره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، يوه ورځ نبــئ آخرُ الزمان، سرورِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحابهٔ كرامعَلَيْهِمُ الرِّضْوان نه پوښتنه اوكړه: نن په تاسو كښې چا روژه نيولې ده؟ حضرت ابوبكــر صديق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ عرض اوكړو: ما! خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پوښتنه اوكړه: نن په تاسو كښې د جنازے سره څوك تلے دے؟ حضرت ابوبكــر صديق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ عرض اوكړو: زه تلے ووم. خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بيا (په دريم ځل) پوښتنه اوكړه: په تاسو كښې نن مسكين ته چا طعام وركړے دے؟ حضرت ابوبكــر صديق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ عرض اوكړو: ما! خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (په څلورم ځل) پوښتنه اوكړه: **په تاسو كښې نن د مريض تپوس چا كړے دے؟** حضرت ابوبكــر صديق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ عرض اوكړو: ما [كړے دے] ! (سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څلور پوښتنې اوكړې، هغه څلور واړه كارونه حضرت ابوبكــر صديق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ كړي وو)، په دې باندې د الله پاك آخري نبــي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم



www.dawateislami.net

اوفرمائيل: په کوم انسان کښې چې دا (4 خصلتونه) جمع شي هغه به جنَّت ته داخل شي.[1]

## فرښتې د بخښنې دُعا کوي

د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت عَلِـیٌّ المُرتَضٰی، شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: کله چې مسلمان د خپل مسلمان ورور تپوس کوي نو هغه د مريض سره د ناستې پورې د جنَّت په باغ کښې ګرځي، کله چې هغه کښيني نو رحمت هغه په خپل څادر کښې اخلي، څوك چې د سحر په وخت د مريض تپوس کوي نو د ماښامه پورې اويا زره فرښتې د هغه د پاره د بخښنې دُعاګانے کوي او څوك چې د ماښام په وخت تپوس کوي نو د سبا سحره پورې اويـا زره فرښتې د هغه د پاره د بخښنې دُعاګانے کوي.[2]

## د 75 زره فرښتو په سوري کښې به اوسي

د صحابـئ رسول حضرت عبدُ الله بِن عُمَر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُما نه روايت دے چې حُضُورِ اکرَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: چا چې د مريض

---

[1] ...مسلم، كتاب الزكاة، باب من جمع الصدقة و اعمال البر، صفحه:369، حديث:1028۔

[2] ...ابنِ ماجه، كتاب الجنائز، باب ما جاء فى ثواب من عاد مريضا، صفحه:234، حديث:1442۔

پوښنه اوکړه، الله پاك به په هغه باندې د 75 زره فرښتو په ذريعه سورے اوکړی، (د کور نه د بهر وتلو نه واخله کور ته بيرته د راتللو پورې) د هغه په هر قدم اوچتولو باندې به د هغه د پاره يوه نيکي اوليکلے شي، په هر قدم باندې به د هغه يوه ګناه ورانه کړے شي او يوه درجه به اوچته کړے شي تردې پورې چې هغه په خپل ځائے کښينې، کله چې هغه د مريض سره کښيني نو رحمت هغه په خپل څادر کښې اخلي او خپل کور ته بيرته د تللو پورې هغه په خپل رحمت کښې پټ ساتي.[1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په دې حديثِ پاك کښې د مريض د تپوس کولو فضيلت بيان شوے دے، د دې سره سره د زده کولو يوه اهمه خبره دا هم ده، زمونږ خلق عام طور د کور لرې کيدلو په سبب هم د تپوس کولو د ثواب نه محرومه پاتې کيږي، خبر خو ميلاؤ شوے وو چې فلانے بيمار دے، د تپوس د پاره د تللو زړه هم کوي خو نفس پرې سُستي راولي چې چرته به دومره لرې ځې، بيا به راځې، دومره وخت د چا سره دے؟ الله پاك دې زمونږ په حال باندې رحم اوفرمائي، لږ غور اوکړئ! څوك چې د مريض تپوس له ځي هغه ته د هغه په هر قدم باندې يوه نيکي ميلاويږي، يوه ګناه ئې مُعاف کيږي او يوه درجه ئې اوچتيږي. اوس دلته غور اوکړئ! که د مريض

---

[1]...معجمِ اوسط، جلد:3،صفحه:222، حديث:4396۔



www.dawateislami.net

کور لرې دے نو د آخرت په لحاظ سره خو دا ډيره د فائدے موقع ده، څومره لرې لاړ شې، دومره ډير قدمونه به مو جوړ شي، څومره چې ډير قدمونه جوړ شي، دومره ډيرې نيکۍ به ميلاؤ شي، دومره ډير ګناهونه مُعاف شي او دومره ډيرې زياتې درجے به مو اوچتې شي. په دې وجه د مريض کور لرې وي يا نِزدې وي مونږ له د سُستۍ نه بچ کيدل او د تپوس ثواب ګټل پکار دي.

## رحمت ئې په خپله ګيره کښې اخلي

صحابۍ رسول حضرت اَنَس بِن مالِك رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې حُضُورِ اکرَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم فرمائي: کوم کس چې د يو مريض تپوس کوي هغه د رحمت په درياب کښې لامبو وهي. کله چې هغه د مريض خواته کښيني نو رحمت هغه په خپله ګيره کښې اخلي.[1]

په **يو روايت** کښې دي: چا چې د مريض تپوس اوکړو، هغه د رحمت په درياب کښې داخل شو، کله چې هغه د هُغه مريض سره خواته کښيني نو د رحمت په درياب کښې لامبي. کله چې د مريض د خوا نه پاسي نو د کوم ځائے نه چې د تپوس د پاره تلے وو، هلته بيرته د را رسيدو پورې د رحمت په درياب کښې لامبو زن اوسي.[2] سُبْحٰنَ الله!

---

[1] ...مسندِ امام احمد، جلد:5،صفحه:494، حديث:13119۔

[2] ...معجمِ اوسط، جلد:4، صفحه:85،حديث:5296۔



www.dawateislami.net

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! الله پاك دې مونږ ته هم توفيق را عطا كړې، كاش! مونږه هم د بيمارانو تپوس اوكړو، د دې په بركت به اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيْم! د آخرت ثواب هم ميلاؤ شي، په دُنيا كښې به خوشحالي هم راشي، په خپل مينځ كښې به مو مينه محبت او اِتِّفاق او اِتّحاد هم زيات شي، كله چې هر يو د نورو په غم كښې شريك كيدونكے جوړ شي نو اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيْم! د دې په بركت سره به مُعاشره سيدها شي، د امن او سكون ماحول به جوړ شي او زمونږه مُعاشره به د ترقئ په لور روانيدو سره ډيره زر مخكښې لاړه شي. الله پاك دې مونږ ټولو ته د يو بل غم تقسيمولو، په مشكل حالت كښې د يو بل سره د مرسته كولو توفيق را عطا كړې.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## په رزق كښې بركت او د خوشحاله ژوند موندلو نُسخه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په دې موجوده وخت كښې په ټوله دُنيا كښې معاشي حالات ډير زيات كمزورئ طرف ته روان دي، د رزق په تنګئ كښې ډير زيات خلق نښتي دي، ډير كم خلق دي چې هغوئي ته په ژوند كښې سكون نصيب دے، راځئ! زه تاسو ته د خوشحاله ژوند تيرولو او په رزق كښې د بركت يوه نُسخه ښائم. د صحابيء رسول حضرت ابُو



www.dawateislami.net

هُریره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے، چې نبئ آخرُ الزمان، سرورِ ذِیشان صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: **مَنْ عَادَ مَرِیْضًا اَوْ زَارَ اَخًا لَهُ فِي اللّٰه نَادَاهُ مُنَادٍ بِاَنْ طِبْتَ وطَابَ مَمْشَاكَ وَتَبَوَّاْتَ مِنَ الْجَنَّةِ مَنْزِلًا** څوك چې د مریض تپوس اوکړي یا د الله پاك رضا د پاره د خپل (دیني) ورور لیدلو له ځي نو یو اعلان کوونکے اعلان کوي، وائي: ته پاك شوے، ستا تلل پاك دي او د دې تللو په برکت تا په جنَّت کښې خپل کور اوموندلو.[1]

د دې حدیثِ پاك لاندې علمائے کرام فرمائي: مطلب دا دے چې اے خوش بخته! اے د بیمار د تپوس د پاره تلونکیه! دا ستا تلل دې ستا د خوشحاله ژوند سبب جوړ شي، د دې په برکت سره دې تا ته د قناعت دولت نصیب شي، د الله راضي کیدو سعادت دې در نصیب شي، ستا په رزق کښې دې برکت وي او د دې تللو په برکت سره دې تا ته د ښه اخلاقو، علم او عمل توفیق در نصیب شي.[2]

سُبْحٰنَ اللّٰه! څنګه شان دے...!! د بیمار تپوس اوکړئ ❀ د الله پاك رِضا به میلاؤ شي❀ په جنَّت کښې به کور در نصیب شي❀ د فرښتو دُعاګانے به در نصیب شي ❀ د الله پاك د رحمت نه به ډیره برخه اوموموئ

[1]...ترمذی،کتاب البر و الصلة،باب ما جاء فی زیارة الاخوان ،صفحه:486،حدیث:2008۔

[2]...مرقاة المفاتیح،کتاب الآداب،باب الحب فی اللّٰه و من اللّٰه ،ج:9 ،صفحه:221،تحت الحدیث:5015۔



www.dawateislami.net

❀ د فرښتو ملګرتيا به در نصيب شي ❀ د دې په برکت سره به مو ژوند خوشحاله شي❀ په رزق کښې به برکت نصيب شي ❀ د قناعت [يعني په لږه باندې د صبر کولو سره د شکر ادا کولو] دولت په لاس در شي ❀ د الله پاك رِضا به در نصيب شي ❀ د دې په برکت سره به مو ښه اخلاق، په علمِ دين پوخ والے او په نيك کارونو باندې ثابت قدمي در نصيب شي. الله! الله! اوس اووائې! نور کوم نعمتونه دي چې مونږ ته پکار دي، د بيمار تپوس کوئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم! ډير زيات انعامونه به درته ميلاؤ شي. الله پاك دې د عمل کولو توفيق را عطا کړې.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د خپل کور د خلقو هم تپوس کوئ!

اے عاشِقانِ رسول! د الله پاك آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان سره سره په خپلو اهلِ بيتو (يعني د کور په خلقو) کښې به څوك بيمار شو نو د هغوئې تپوس به ئې هم کولو. يو ځل د مسلمانانو خوږه محترمه مور حضرت عائشه صِدِّيقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته تبه راغله نو خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړو (حضرت عائشه صِدِّيقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمائي: ما د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په

خدمت کښې د تبې ذِکر اوکړو او دا [تبه] مې ناخوښه کړه)، په دې باندې خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: بےشکه تبه د حکم پابنده ده، تاسو دې ته بد مه وائې خو تاسو غواړئ نو زه تاسو ته داسې الفاظ زده کووم چې کله تاسو هغه اووائې نو الله پاك به ستاسو نه تبه لرې کړي. بيا خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عائشه صِدّيقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا ته دُعا زده کړه، هغه دُعا دا ده:

**اَللّٰهُمَّ ارْحَمْ عَظْمِى الدَّقِيقَ وَجِلْدِىَ الرَّقِيقَ ، وَاَعُوذُ بِكَ مِنْ فَوْرَةِ الْحَرِيقِ ، يَا اُمَّ مِلْدَمٍ ، اِنْ كُنْتِ آمَنْتِ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا تَأْكُلِى اللَّحْمَ وَلَا تَشْرَبِى الدَّمَ ، وَلَا تُفَوِّرِىْ عَلَى الْفَمِ ، ولا تَصَدَّعِى الرَّأْسَ وَانْتَقِلِىْ اِلَى مَنْ زَعَمَ اَنَّ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا آخَرَ فَاِنِّىْ اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ** هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهَا فرمائي: ما چې څنګه دا دُعا اولوستله، زما تبه ختمه شوه.[1]

کیا مبارک نام ہے، کیسا پیارا ہے لقب عائشہ محبوبۂ محبوبِ رَبُّ العالمیں
آیۂ تطہیر میں ہے ان کی پاکی کا بیاں ہیں یہ بی بی طاہرہ، شوہَر امام الطّاہِرِیں[2]

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| زوجۂ | مصطفیٰ | سیدہ | عائشہ | عابدہ | زاہدہ | سیدہ | عائشہ |
| ساجدہ، | صائمہ | سیدہ | عائشہ | طیبہ | طاہِرہ | سیدہ | عائشہ |
| خُلد | میں داخِلہ | سیدہ | عائشہ | دو خُدا سے | دِلا | سیدہ | عائشہ |

[1]...کنز العمال، کتاب الطب و الرقى و الطاعون الحمى، جز:10، ج:5، صفحه:41، حديث:28508 ملتقطًا۔
[2]...ديوانِ سالِک، صفحه:84 85 ملتقطًا۔



www.dawateislami.net

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! تاسو اوليدل! خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د بـي بـی عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہَا تپوس هم اوفرمائيلو او هغوئي ته ئې د تبے نه د خلاصي دُعا هم زده کړه، دغه شان خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د اهلِ بيتو نورو خلقو هم تپوس فرمائيلو. مونږ له هم پکار دي چې د بهر د خلقو سره سره د خپل کور والؤ هم خيال اوساتو، چرې داسې نه وي چې د خپلو ټولو دوستانو تپوس خو کيږي او په خپل کور کښې موجود مور يا کمزورے پلار يا د ماشومانو مور وغيره د بيمارئ نه کمزوري پراته وي او د هغوئي سره هډو د همدردئ وخت نه اوباسو.

## د تپوس کولو آداب

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! مونږ له د مريض تپوس کول دي، لازمي کول دي، د دې سره سره د تپوس کولو د آدابو هم خيال ساتل دي. راځـئ! د مريض د تپوس کولو آداب هم زده کوو:

## (1) د اللّٰه پاك د رِضا نيت اوكړئ!

❁ د ټولو نه اوَّل او بنيادي ادب خو دا دے چې د مريض تپوس صرف او صرف د اللّٰه پاك د رِضا د پاره اوکړے شي، په دې نيك كار كښې يو بل دويم نيت مه ساتئ.

دا ډېر عجيبه مرض زمونږ په معاشره کښې په خوريدو دے چې مونږه ډېر زيات کارونه صرف د خپل عِزَّت د پاره کوو او دا څيز په مونږ کښې فرق پيدا کوي، کله چې داسوچ جوړ شي چې ما له هر کار د خپل عِزَّت بچ کولو د پاره کول دي نو بيا د دې لحاظ هم ساتلے کيږي، چرته چې د عِزَّت بےعِزَّتئ مسئله جوړيږي، هغه کار مونږه کوو، چرته چې نه جوړيږي، هغه نه کوو ❁ دغه شان د ادلے بدلے هم سوچ موندلے کيږي، مثلاً زه بيمار شوے ووم نو فلانے زما د تپوس د پاره راغلے وو، په دې وجه د هغه تپوس د پاره ما له هم تلل دي، که هغه راغلے نه وي نو زه هم نه ځم، دا ډېر غلط عادت دے، ډېر غلط انداز دے، زمونږه دا عادتونه او دا سوچ زمونږه مُعاشره تباه کوي. ياد ساتئ! د يو مسلمان د ژوند اصل بنياد، زمونږ

د ژوند اصل مقصد د الله پاك رِضا ده، الله پاك فرمائي:

وَ اللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗۤ اَحَقُّ اَنْ یُّرْضُوْهُ اِنْ كَانُوْا مُؤْمِنِیْنَ (پاره:10، التوبه:62)

**[مفهوم]** ترجمهٔ کَنزُالایمان: حالانکه الله او د هغه رسول د دې خبرې زيات حق دار دي چې خلق هغه راضي کړي، که هغوئي ايمان والا ئې.

دا دے اصل بنياد...!! د الله او رسول زيات حق دے چې مونږه هغوئي راضي کړو، زمونږ عِزَّت پاتي کيږي يا نه پاتې کيږي، خيال مو ساتلے کيږي يا نه ساتلے کيږي، د الله او رسول رِضا خامخا ميلاويدل پکار ده، په دې وجه کله



www.dawateislami.net

چې هم د يو مسلمان وروړ تپوس د پاره ځئ نو صرف او صرف د الله پاك د رِضا په نِيَّت ځئ، دا نِيَّت اوکړئ نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! ثواب به هم ميلاؤ شي او د دې په برکت به نورې دُنياوي فائدے هم حاصلې شي.

## (2) اودس اوکړئ او لاړ شئ!

کله چې هم د تپوس د پاره تلل وي نو اودس اوکړئ او لاړ شئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! په اودس کښې د اوسيدلو ثواب خو به ميلاويږي ميلاويږي، د دې سره سره نور برکتونه به هم حاصل شي، د صحابيء رسول حضرت اَنَس بِن مالِك رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې حُضُورِ اکرَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: چا چې په ښه طريقے سره اودس اوکړو او د ثواب په اُمِّيد باندې د خپل يو مسلمان وروړ تپوس اوکړو، هغه به د دوزخ نه د 70 کالو په فاصله باندې لرې کړے شي.[1]

## (3) مريض ته د دُعا اووائې!

کله چې هم د تپوس د پاره لاړ شئ نو مريض ته د خپل ځان د پاره د دُعا وائې، په حديثِ پاك کښې دي: د بيمارانو تپوس کوئ او هغوئي ته د خپل ځان د

---

[1] ...ابو داؤد، کتاب الجنائز، باب فی فضل العيادة علی الوضوء، صفحه: 500، حديث: 3097۔

پاره د دُعا وائي! ځکه چې د بيمار دُعا قبوله ده او د هغه ګناه مُعاف دي.[1]

په يو بل **حديثِ پاك** کښې فرمائي: کله چې تاسو د يو بيمار خوا ته لاړ شئ نو هغه ته د خپل ځان د دُعا خواست اوکړئ ځکه چې د هغه دُعا د فرښتو د دُعا په شان ده.[2]

**سُبۡحٰنَ اللّٰه!** په دې حديثِ پاك باندې غور اوکړئ! چې که مونږه د مريض تپوس له لاړ شو، د دې سره د مريض زړه خوشحاله کيږي، دا په خپل ځائے باندې ده، د دې سره سره زمونږه هم ډيره فائده کيږي، مونږه مريض ته د دُعا اووايو، د دې په برکت سره به **اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِيۡم!** زمونږه

هم مرادونه پوره شي.

يوه ډيره زبردسته نُسخه ده، ځينې وخت داسې کيږي، په مونږه باندې مشکل وخت راشي، لکه څنګه چې وائي: که سرو زرو له لاس ور وړو نو خاوره کيږي. داسې حالات جوړيږي، نه پوهيږو چې څه اوکړو، زما سره څه کيږي، له هر طرفه مشکلاتو، پريشانو انسان را ګير کړے وي، الله دې نکړي که داسې وخت راشي نو په داسې موقع باندې دا کار په خپل ځان لازم کړئ، د بيمارانو تپوس له لاړ شئ، يو خو به د تپوس ثواب ميلاؤ شي، د دې سره سره

---

[1]...معجمِ اوسط، جلد:4، صفحه:294، حديث:6027۔

[2]...ابنِ ماجه، کتاب الجنائز، باب ما جاء فى عيادة المريض، صفحه:234، حديث:1441۔



www.dawateislami.net

د مريض نه دُعا اوغواړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! مشکلات به مو حل شي.

## بيمار ته دُعا اوکړئ!

د تپوس په وخت د مريض نه د خپل ځان د پاره دُعا اوغواړئ. د دې سره سره د مريض د پاره هم دُعا کول پکار ده. د حضرت عبدُ الله بِن عبّاس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُما نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: کوم يو مسلمان ورور چې د خپل مسلمان ورور د تپوس د پاره لاړ شي نو دا کلمات دې 7 ځله اووائي، که د هغه د مرګ وخت نه وي راغلے نو الله پاك به د دې کلماتو په برکت سره هغه ته شِفا عطا کړي. هغه کلمات دا دي: اَسْاَلُ اللّٰهَ الْعَظِيْمَ رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ اَنْ يَّشْفِيَكَ يعني زه د عرشِ عظيم د ربِّ عظيم نه سُوال کووم چې تا ته شِفا عطا کړي.[1]

| | |
|---|---|
| جو ہیں بیمار صحت کے طالِب | ان پہ فرما کرم ربِّ غالِب |
| تجھ سے رحم و کرم کی دُعا ہے | یاخُدا! تجھ سے میری دُعا ہے[2] |

## د تپوس کولو طريقه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيمار تپوس کول د ثواب کار دے

[1]...ابو داؤد، کتاب الجنائز، باب الدعاء للمريض عند العيادة، صفحه:502، حديث:3106۔

[2]...وسائلِ بخشش، صفحه:136 137۔

خو ځيني وخت تپوس کول د مريض د پاره د آرام په ځائے د تکليف سبب جوړيږی. بے ضرورته د بيمارئ د تفصيل پوښتنه، د ډاکټرئ د مُعامَلاتو نه لاعلم کيدو باوُجود هم داسې قِسما قسم مشورے ورکول او نور فضول سوالونه کول د مريض د پاره دپريشانئ سبب ګرځي. بهرحال په تپوس کولو کښې د مريض د کيفيت خيال ساتل ضروري دي او که دا محسوسيدله چې زمونږه موجوده پاتي کيدل د مريض د پاره د تکليف سبب دے نو زر د هغه ځائے نه رُخصَتيدل پکار دي.

## ښه مناسب وخت اوټاکئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيمار د تپوس کولو د پاره د ښه وخت ټاکنه کول هم ضروري دي، ښکاره خبره ده چې د چا تپوس کولو د پاره ځئ، هغه بے وسه بيمار دے او دبيمارئ په حالت کښې سل قِسمه مُعاملات پيښيږي، په داسې حالت کښې که مونږه د مريض خوا ته لاړ شو او د پاڅيدو نوم هم نه اخلو نو کيدے شي چې بيمار په تکليف کښې راشي، داسې بے وخته تلل هم مريض په تکليف کښې اخته کولے شي. حضرت شعبی رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: د بے وقوفو خلقو د مريض تپوس کول د هغه په کور والؤ باندې د هغه د مرض نه هم زيات ګرانيږي، ځکه چې هغه [بےوقوفه] بے



www.dawateislami.net

وخته راځي او د ناوخته پورې ناست وي.[1]

## د تپوس كولو يو څو نور آداب

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! دغه شان د بيمار د تپوس يو څو نور آدابه هم دي: ❀ د چا د تپوس د پاره لاړئ او د مرض سختي اووينئ نو هغه ته د ويرولو خبرې مه كوئ د مثال په طور ستاسو حالت خراب دے او نه په دې انداز باندې سر اوخوزوئ د كوم نه چې د حالت خرابيدل معلوميږي ❀ د تپوس په وخت د مريض يا پريشانه انسان مخے ته په خپل مخ باندې د غم او پريشانئ كيفيت ښكاره كړئ ❀ د خبرو كولو انداز دې هيڅ كله داسې نه وي چې مريض يا د هغوئي خپلوانو ته وسوسه راشي چې دا زمونږ په پريشانئ باندې خوشحاليږي ❀ د مريض خوا ته لاړ شئ، د هغه د طبيعت پوښتنه اوكړئ او د هغه د پاره د صحت او عافيت دُعا اوكړئ ❀ د مريض مخے ته داسې خبرې كول پكار دي چې د هغې سره د هغه زړه خوشحاليږي، د بيمارئ فضائل او د الله پاك د رحمت ياد ګيرنې اوكړئ د پاره د دې چې د هغه ذِهن د آخرت ثواب طرف ته مائله شي او په ژبه د ګيلو شكايتونو الفاظ را نوړي. ❀ د تپوس كولو سره د موقعې په مُناسَبَت سره مريض ته د نيكئ دعوت هم پيش كړئ خاص طور د لمَانځه د پابندئ ذِهن وركړئ چې په

[1]...حلية الاولياء، جلد:4، صفحه:348، رقم:5817۔

بیمارئ کښې ډیر لمُونځ ګزاره هم د لمَانځه نه غافله کیږي ❀ د مریض خوا ته د ډیر وخته پورې مه کښینئ او مه شور زوَږ کوئ آو، که بیمار مو پخپله د ناوخته پورې د کښیناستلو خواهش لري نو په ممکنه صورت کښې تاسو د هغه د جذباتو احترام اوکړئ ❀ د بعضو خلقو عادت وي چې د مریض یا د هغه نمائنده سره میلاؤ شي نو څه نه څه علاج ښائي او بعضې خو بیمار په دې خبره قائل کوي چې زه کوم علاج ښائم هغه اوکړه، فلانئ دوائي اوخوره، ټیك به شې! مریض له پکار دي چې د هر چا ښودلے شوے علاج اونکړي، چې **نیم حکیم خطره د ځان**، د چا ښودلے شوي علاج کولو نه مخکښې د خپل طبیب سره مشوره اوکړئ. خبردار! کوم چې طبیب نه وي او علاج ښائي، هغه دې په قلار شي.

الله پاك دې مونږ ته په خپل مینځ کښې په اِتِّفاق او اِتِّحاد سره د اوسیدلو، د یو بل غم تقسیمولو او د بیمارانو د تپوس کولو توفیق را عطا کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

یہ مریض مَر رہا ہے تِرے ہاتھ میں شِفا ہے
اے طبیب! جلد آنا مَدنی مدینے والے



www.dawateislami.net

# 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار "علاقائي دوره"

اے عاشِقانِ رسول! د فتنے نه ډك دور دے، فتنے په مختلفو طريقو سره سر اوچتوي، په داسې حالاتو كښې د عاشقانِ رسول ديني تحريك **دعوتِ اسلامي** ديني ماحول د الله پاك ډير لوئے نِعمَت دے، په خپل زړه كښې عشقِ رسول زياتولو، د صحابهٔ و اهلِ بيت او اوليائے كرامو محبت ډيوه په خپله سينه كښې د بلولو د پاره د دې ديني ماحول سره شامل شئ او په ثابت قدمئ سره 12 ديني كارونو كښې په اخلاص خپل كردار ادا كړئ او د ډير ثوابونو حقدار جوړ شئ.

په دې ديني كارونو كښې يو ديني كار " **علاقائي دوره**" هم ده

❀ د **حديثِ پاك خُلاصه ده:** په كوم قدم چې د الله پاك په لاره كښې دوړې [خاورې] اولګي، هغه به دوزخ نه سيزي.[1] ❀ د نيكئ د دعوت او د بدئ نه منع كولو د پاره د كور نه وتل هم د الله پاك په لاره كښې وتل دي ❀ زمونږه خوږ آقا، مكي مدني مصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د نيكئ د دعوت د پاره بازارونو ته تشريف وړلو ❀ مختلفو قبيلو ته به ئې تشريف وړلو او هغوئي ته به ئې هم د نيكئ دعوت وركولو ❀ دعوتِ اسلامي والا عاشقانِ رسول هم د دې خوږ سُنَّت ادا كولو كوشش كوي ❀ كور كور، دُكان ته ځي او د نيكئ دعوت پيش كوي ❀ خلقو ته جمات ته د راتللو دعوت وركوي ❀ د لمُونځونو ترغيب وركوي❀ مونږه دې ته علاقائي دوره وايو❀ تاسو هم د

[1]... مسند امام احمد، جلد:6، صفحه:507، حديث:16356۔



www.dawateislami.net

عاشقانِ رسول سره علاقائي دوره اوكړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! ❁ د انبياء په سُنَّتو باندې به د عمل سعادت در نصيب شي ❁ د نيكۍ د دعوت عام كولو ثواب به ميلاؤ شي ❁ د حديثِ پاك مطابق د نيكۍ لاره ښودونكے، د نيكي كوونكي په شان دے ❁ كه زمونږه د نيكۍ په دعوت باندې يو كس لمُونځ ګزاره جوړ شو نو يقين اوكړئ! قسمَت به مو روښانه شي ❁ (په كومه ورځ او كوم مقام باندې علاقائي دوره كول وي، هغه اوښائې! مثلاً اووائې!) د هر چار شنبے [يعني شروع] په ورځ د مازديګر لمَانځه نه پس فيضانِ مدينه ته نِزدې محله كښې به علاقائي دوره وي، تاسو هم تشريف راوړئ! د مازديګر لمُونځ په فيضانِ مدينه كښې ادا كړئ! بيا به ټول يوځائے د نيكۍ دعوت عام كړو، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! ډير ثواب به ميلاؤ شي. راځئ! ستاسو د ترغيب د پاره يو مدني سپرلےاورووم:

## غير مسلمو اسلام قبول كړو

د ضلع غازى پور (يو. پى هند) د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده چې د مازديګر لمَانځه نه پس مونږه د علاقائي دورے په سلسله كښې د يو حَجَّام دُكان ته اورسيدو چرته چې يو څو ماډرن ځلمي په ګپ شپ كښې مصروف وو، رهنما ورمخكښې شو او پيژندګلو ئې اوكړه نو د نيكۍ دعوت وركوونكي اسلامي ورور فوراً د درد نه ډك انداز كښې د نيكۍ دعوت شروع كړو. د نيكۍ د دعوت نه پس هغوئي ته ئې جمات ته د تللو دعوت وركړو، هغوئي انكار اوكړو خو د عاشقانِ رسول د محبت نه ډك اصرار باندې آخر كار



www.dawateislami.net

هغوئي د لمَانځه نه پس په بيان کښې د شريك کيدلو رضامندي ښکاره کړه. د لمَانځه نه پس چې څنګه بيان شروع شو هغوئي ټول راغلل. د بيان په ختميدو ئې د ايمان اهميت اوښودلو او د ايمان د حفاظت فکر کولو ذِهن ئې ورکړو، د دې نه پس هغوئي د جمات نه بهر ته لاړل. لا ډير وخت نه وو تير شوے چې بيا راغلل، د هغوئي د مخونو اثراتو د يو لوئے انقلاب خبر ورکولو، هغه خلقو اووئيل: مونږه غير مسلمه يو تاسو مونږ ته کلمه اووائي او مسلمانان مو کړئ! مونږه په اسلام کښې داخليدل غواړو. اميرِ قافِله فوراً کلمه طيبه لَآاِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰه اولوسلته او هغه ټول ئې مسلمانان کړل. بيا اميرِ قافله د اسلام په خوشحالئ باندې هغوئي ته مبارکي ورکړه. هغوئي اووئيل: مونږه په بيان کښې د قبر حالات واوريدل چې ښه اعمال کوونکو سره هغه څه عمل کوي او بد کارونه کوونکو سره څنګه سخت ويرروونکے سلوك کوي، د اسلامي تعليماتو مطابق ستاسو په سُنَّت باندې عمل او د دين و ايمان حفاظت د پاره درد مند کيدل مو اوليدل نو زړه او دماغو مو ګواهي ورکړه چې اسلام والا د حق او رښتيني دعوت ورکوونکي او د خلاصي د لارې مسافر دي.[1]

مقبول جهاں بھر میں ہو دعوتِ اسلامی | صدقہ تجھے اے ربِّ غفّار! مدینے کا[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... فيضانِ صديقِ اکبر، صفحه:140 141 خلاصةً۔

[2]...وسائلِ بخشش، صفحه:180۔



www.dawateislami.net

## ”القُرآنُ الكريم“ ايپلي كيشن

اے عاشقانِ رسول! اَلْحَمْدُلِلّٰه د دعوتِ اسلامي آئی. ټـي ډيپارټمنټ له طرفه د عوامو د آسانئ د پاره يو موبائل ايپلي كيشن جاري كړے دے چې نوم ئې دے: **Al Quran Al kareem:** (القرآن الكريم). دا اَيپلي كيشن ***Android*** او ***IOS*** ډاؤن لـوډ كړئ او انسټال ئـې كړئ! په دې موبائل ايپلي كيشن كښې ❁ مكمل قرآنِ پاك لوستلو ❁ او د مختلفو قاريانو په آواز كښې د قرآنِ كريم اوريدلو سهولت موجود دے ❁ د دې سره سره يو مخصوص سورت يا آيت هم ***Bookmark*** كولے شئ يعني بار بار لوستلو والا سورت يا آيت هم د ***Bookmark*** په ذريعه په آسانه لوستلے شئ. دا ايپلي كيشن په خپل موبائل كښې انسټال كړئ، پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب وركړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره كښې د سُنّت فضيلت او د ژوند د ځينو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت ، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِى فَقَدْ اَحَبَّنِى وَمَنْ اَحَبَّنِى كَانَ مَعِىَ فِى الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوكړو هغه زما سره محبت اوكړو او چا چې زما سره

محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي.[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## په ځناورو باندې رحم کول سُنَّتِ مصطفٰی دے

**دوه فرامينِ مصطفٰی** صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: **(1)** تاسو خلق د دې بےزبانه ځناورو په باره کښې د الله پاك نه اويريږئ، په دې باندې هغه وخت سوريږئ کله چې دا په ښه حالت کښې وي او په دوئي باندې ښه خوراك کوئ.[2] **(2)** په هر ساه لرونکي باندې د شفقت کولو اجر ميلاويږي.[3]

**اے عاشِقانِ رسول!** په ځناورو باندې رحم کول سُنَّتِ مصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے ❁ حُضُورِ اکرَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په ځناورو باندې ډير شفقت کولو ❁ خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د ځناورو فرياد اوريدلو او د هغوئي مدد به ئې کولو ❁ يو ځل خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يو اوښ په فرياد باندې د هغه مالك ته اوفرمائيل: ته دا اوږې ساتې او کار ترې زيات اخلې.[4] ❁ که چا به ځناور ته تکليف ورکولو نو خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغه نه ناراضه کيدلو ❁ خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به

---

[1]... مشكوٰة، كتابُ الايمان، بابُ الاِعۡتِصَام، جلد:1، صفحه:55، حديث:175۔

[2]... ابوداؤد، كتاب جهاد، صفحه:408، حديث:2548۔

[3]... بخارى، كتاب مظالم وغصب، صفحه:635، حديث:2466۔

[4]... ابوداؤد، كتاب جهاد، صفحه:408، حديث:2549 خلاصةً۔



www.dawateislami.net

څناور په خپل مینځ کښې جنګولو، هغه تړلو او وهلو او د هغې مُثله کولو (یعني مخ ورانولو) نه منع فرمائیل.[1]

هرن نے،اونٹ نے،چڑیوں نے کی یہی فریاد | کہ ان کے غم کا مداوا حضور جانتے ہیں

الله دې مونږ ته هم په سُنَّتِ مصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې د عمل کولو سره په څناورو باندې د شفقت کولو توفیق را عطا کړې.

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د **مکتبة المَدینه بهارِ شریعت** جلد 3 نه حصه 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه **مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي** دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتونو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د **دعوتِ اسلامي** قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

غم کے بادَل چھٹیں قافلے میں چلو | خوب خوشیاں ملیں قافلے میں چلو
رب کے در جُھکیں، اِلتجائیں کریں | بابِ رحمت کُھلیں، قافلے میں چلو[2]

الله پاك دې د عمل کولو توفیق را عطا کړې.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1] ...سیرت رسول عربی، صفحه:332تا335ملتقطاً۔

[2] ...وسائلِ بخشش، صفحه:671ملتقطًا۔



www.dawateislami.net

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې

## لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه كښې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبْر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر كښې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ

الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِىَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو

1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ ملخصًا

کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازے:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازے بیرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو:

صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[2] راځئ چې په شریکه ئې اُووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللہِ

صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْكِ اللہِ

1...القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹



www.dawateislami.net

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

---

1... القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

2... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۳۲۹/۲، حديث:۳۰



www.dawateislami.net

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکئ:

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دي د لوستونکي د پاره فرښتے یو زر ورځو پورې نیکئ لیکي.[1]

راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو:

جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَاھُوَ اَھْلُہٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰہُ الْحَلِیْمُ الْکَرِیْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰہِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

1...مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث: ۱۷۳۰۵

2...تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث: ۴۴۱۵



www.dawateislami.net